# د خوشحال بابا
# د شاعرۍ په رڼا کښې یوه فقیهي مسئله

"A Theological Problem in Light of the Khushhal's poetry"

**Syed Bacha Agha**
**Hafiz Rehmat Niazi**

**Abstract** :Khushhal Khan Khattak was not only a poet and a writer, but also a scholar. A kind of scholar who has focused also those Islamic laws that can cause dispersion in the society. Sex is one of the same which Islam has forbidden and also entirely denied by the Pashtoon society. AIDS is one of the diseases which have got birth by practicing the sex unnaturally. In this research paper, those Islamic laws which can cause dispersion in the society have been discussed in the light of Khushhal Khan Khattak's poetry.

دا خبره تر لمر هم ډېره روښانه ده چې اسلام یو سپېڅلی او مکمل ضابطه حیات دین دی. لکه د اسلام سپېڅلتیا چې تر لمر روښانه ده داسې د اسلامي مذهب څلور امامان او د هغوئ فکر و نظر یا په نورو ټکو کښې د هغو مذهبونه هم د اسلام غوندې سپېڅلي او روښانه دي. خو بیا په دغو څلورو مذهبونو کښې د امام ابوحنیفه^رح^ مذهب ته په تاریخ کښې د اعتدال مذهب ویل شوی دی. یعني د اعتدال دا معنا چې نۀ خو دومره سخت مذهب دی چې انسان یې په عملي کولو باندي له ستونځو سره مخامخ کیږي او نۀ دومره اسان مذهب دی چې د انسان د اسلامي مذهب نۀ بلکې د یو بل غیر اسلامي لارې ګمان وربانديې کیږي. د امام صاحب د مذهب په اعتدال باندې لوئ دلیل دا دی چې له مسلمانانو څخه د نړۍ ډېر مسلمانان د امام صاحب د مذهب مقلدین دي. تر دې حده زمونږ په پښتو ادب کښې د امام صاحب د مذهب ډېرې مسئلې هغه که بیا په نثر کښې وي که په نظم کښې ځای شوې دي. د پښتو ادب د دریيم دور ستر لیکوال خوشحال خان خټك چې د نثر او نظم په دواړو حوالو یې په ټوله نړۍ کښې د شهرت ازانګې خپرې شوې دي او په خپلو ادبي اصنافو کښې یې د امام صاحب د مذهب ډېرې مسئلې وړاندې کړې دي. او دی په خپله د مذهب تعریف داسې کوي:

لــــه کتابـــه لـــه اخبـــاره :: پـــه اجمـــاع د امـــت یـــاره
چـــې مـــذهب د دۀ مـــذهب دی :: د امـــام اعظـــم مـــذهب دی
چـــې لـــه دایـــه ډېـــر ویریـــږي :: امامـــت بانـــدې رغیـــږي
ډېـــر پـــه ویـــره پـــه اخـــلاص ؤ :: امـــام ځکـــه خـــاص الخـــاص ؤ
د رســـول انـــس صـــاحب ؤ :: روایـــت یـــې باصـــواب ؤ
چـــې نعمـــان بـــن ثابـــت دی :: د دیـــن کـــار پـــه دۀ ثابـــت دی
د رســـول د خـــولې خبـــر دی :: شـــك و مکـــره معتبـــر دی
چـــې نعمـــان بـــه را پیـــدا شـــي :: زمـــا دیـــن بـــه پـــرې رڼـــا شـــي
دا لفـــظ درې ځلـــي منهـــاج دی :: دی ســـراج ســـراج دی (۱)

لـه پورتنیـو شـعرونو پـه ډاګـه معلومـه ده چـې خوشـحال خـان ختـك هـم د امـام صـاحب د مـذهب پیروکـار وو او د امـام صـاحب مـذهب یـې ځکـه خـوښ ؤ چـې خوشـحال خـان ختـك هـم د خپـل دور ډېـر لـوئ عـالم ؤ او د مسـایلو د اعتـدال پـه وجـه یـې د امـام صـاحب مـذهب تـه تـرجیح ورکـړې وه. امـام صـاحب هـره مسـئله د قرآنـي آیـت او د پیغمبـرﷺ د حـدیث پـه رڼـا کښـې څېړلـې ده او بیـا یـې د خپـل قـوي اجتهـاد پـه زور ډېـرې مسـئلې را ایسـتلې دي. د دۀ د مـذهب لـه خاصـیاتو یـو خاصـیت دا دی چـې پـه هغـه کښـې د وخـت، د عـاداتو او هغـو رواجونـو چـې لـه اسـلامه سـره ضـد نـۀ وي رعایـت سـاتل شـوی دی. ځکـه چـې ډېـر داسـي احکـام دي چـې د زمـانې لـه تېرېـدو سـره بـدلیږي. دا پـه دې وجـه چـې اهـل زمانـه (عـرف) بـدل شـي نـوي ضـرورتونه پیـدا شـي. او د زمـانې لـه بدلېـدو سـره پـه مسـایلو کښـې هـم داسـې اجتهـاد کـول ضـروري وي چـې پـه اهـل زمانـه کښـې فسـاد پیـدا نـۀ شـي. نـو پـه داسـې حـالاتو کښـې کـه چېـري شـرعي حکـم لـه منځـه ولاړ شـي نـو دا بـه د خلکـو دپـاره د سـتونځي سـوب وګرځـي. پـه هـم دغـه وجـه فقهـاوو د تحقیـق منـاط (یعنـي پـه هـره زمانـه کښـې نـوي جدیـد مسـایل لـه اسـلامي قوانینـو سـره برابـرول) او د فقهـې تقـدیري (یعنـي پـه داسـې واقعـاتو بانـدې د رایـې اظهـار کـول چـې پـه وجـود کښـې خـو نـۀ وي راغلـي لېکـن پـه راتلـونکې زمانـه کښـې د هغـو واقعـاتو پېښېـدل امکـان لـري). دروازه د تـل دپـاره خلاصـه ګرځـولې ده. د مثـال پـه ډول لکـه پـه خـوا زمانـه کښـې د ایـډز د مـرض هـېڅ وجـود نـۀ ؤ. لـېکن پـه موجـوده زمانـه کښـې ایـډز پـه نـړۍ کښـې یـو لـوئ ناسـور ګرځېـدلی دی. دا یـوه اخسـتونکې نـاروغي ده. چـې

لـه نارینـه څخـه ښـځینوو تـه او لـه ښـځینوو څخـه نـارینوو تـه انتقـال کـوي. او هـم دا ډول و زوکـړي او نـازوکړي بچـې تـه هـم حلـول کـولای شـي. لکـه څنګـه چـې یـو طبـي پوهاند ویلي دي:

If a Women carring the human immunodefiency infection becomes pregnant, there is often no way to stop her from ttansmitting the virus to her unborn young. (2)

ترجمـه: کـه چیـري یـوه ښـځه د ایـډز پـه مـرض اختـه وي او دا حاملـه وګرځـي نو دا نۀ شي کولای چې دا خپل مرض له نازو کړي بچې څخه راوګرځوي.

بهـر حـال دا مـرض لـه بـدکارۍ، همجنسـۍ او لـه مرضـمن چـا څخـه اخسـتل کیـږي. لـیکن د اسـلام رنګـه سـپځلی دیـن او د پښـتني تـولنې ټینـګ رواج د داسـې بدکاریو د پیښېدلو اولنۍ لاري لاهم بندې ګرځولې دي. اللهﷻ فرمايي:

"[illegible] "(۳).

ترجمــه: (اې پیغمبـره! ووایـه مومنـانو تـه چـې پټـې کـړي خپلـې سـترګې (لـه نـاروا کتلـو) او وسـاتي خپلـې شـرمګاوې لـه حرامـو دا دوئ لـره ډیـر پـاکیزه او ګټـور کار دی. الله ډیر ښۀ خبر دی په هغه څۀ چې دوئ یې کوي.

پـه دې آیـت کښـې الله تعـالی مسـلمانانو نارینـه او ښـځینوو تـه امـر کـړی دی چـې خپلـې سـترګې او شـرمګاوې لـه نـاروا نـه وسـاتي. او د شـرمګاه پـه سـاتلو کښـې دا هـم ده چـې لـه زنـا، لواطـت، مسـاحقت، (د زنـانو همجنسـي) لڅـول او خلکـو تـه لـه ښـودلو نـه یـې وسـاتي. او دا ډیـر لـوئ جـرم او ګنـاه ده. چـې د دې کـار کوونکو ته د لويې سزا او عذاب وعید راغلی دی. پیغمبرﷺ وایي:

"کـه چیـري یـوه ښـځه لـه بلـې ښـځې سـره بـدفعلي وکـړي نـو دوئ دواړه زناکـاره دي او هغـوی تـه د تعـذیر پـه شـکل سـزا ورکـول کیـږي. ځکـه دا داسـې زنـا ده چې په شریعت کښې ټاکلې سزا نۀ لري"(۴).

د پښــتو ژبــې ســتر شــاعر او ملــي مبــارز خوشــحال خــان ختــك د پــورتنۍ مسئلې په حقله داسې وایي:

دوه ښـځې سـره ورشـي :: فـرج پـه فـرج یـې برابـر شـي (۵)

او بیا وایي:

کـــه پـــه فـــرج وي یـــوه زنـــا ده :: لواطـــت بـــده بـــلا ده (۶)

نـو مسـلمانه ښـځه او نـر بایـد لـه دې نـاوړه او نـاروا کـار نـه ډډه وکـړي دا نـه یـوازې پـه اسـلام کښـې منـع عمـل دی بلکـې پـه پښـتني ټولنـه کښـې هـم و دې عمـل ته ډېر خبیث او ناوړه کار ویل شوی دی. خوشحال خان ختك وایي:

چـې بـد نـه کانـدي خبیـث :: نـور بـه څـۀ کانـدي خبیـث
ځنـې طمعـه د ښـو مـه کـړه :: کلـه ښـۀ کانـدې خبیـث (7)

د سـترګو کتـل چـې دي نـو هغـه هـم د شـهوت جلبـونکی او راوسـتونکی عمـل دی او د سـترګو لـه کتلـو ځـان سـاتل د فـرج سـاتل دي. چـا چـې خپلـو سـترګو تـه لاره خلاصـه کـړه نـو ځـان یـې لـه هلاکـت سـره مخـامخ کـړ. ځکـه چـې د سـترګو کتـل د شـیطان د غښـیو نـه یـو زهـرجن غشـی دی. او کتـل د ټولـو هغـو پېښـو اسـاس دی کـوم چـې انسـان تـه رسـېږي. ځکـه یـو ځلې کتـل د انسـان پـه خـاطر کښـې یـوه انګېـره پیـدا کـوي او لـه هغـه نـه فکـر مینـځ تـه راځـي. او هغـه فکـر بیـا پـه شـهوت بـدلېږي. او لـه شـهوت نـه اراده پیـدا کېـږي. او بیـا دا اراده ټینګېـږي او کلـك عـزم ځنـې جـوړېږي. او پـه پـای کښـې کـه مـانع او خنډ پیـدا نـۀ شـي نـو هغـه بـه خامخـا د زنـا د عمـل جامـه اغونـدي. نـو ځکـه خـو ویـل شـوي دي چـې پـه سـترګو پټولـو او سـاتلو بانـدې صـبر کـول لـه دې نـه اسـانه ده چـې لـه هغـه نـه وروسـته واقـع شـوی کـار یعنـې ګناه په جزا او درد باندې صبر و شي. ځکه خو خوشحال خان ختك ویلي دي:

تـــورې ســـــترګې، تـــورې ورځـــــې، تـــورې زلفـــــې
دا همـــــه تـــورې بـــــلا دي زۀ یـــــې خـــــوار کـــــړم (۸)

د شـیطان لـه غولونکیـو شـیانو نـه چـې انسـان پـرې خطـا باسـي کـم علـم او کـم عقـل دی او د ضـعیف دیانـت خاونـدان پـرې تېروځـي او د جـاهلانو او فسـاد کـارانو زړونـه چـې یـې پـه هغـه سـره ښـکار کـړي دي. لـه هغـو شـیانو څخـه چـې د زنـا او شـهوت سـوب ګرځـي یـو سـاز او سـرود هـم دی. چـې زړونـه د ګنـاهونو، فسـق او فجـور و خـوا تـه رابـولي. دا د بـدکارۍ وسـیله ده. سـوکه سـوکه پـه زړۀ کښـې وسوسـه پیـدا کـوي او دا وسوسـه هـم پـای د مینتـوب او نـارواییي وسـیله جـوړېږي. او د دې پـه سـوب سـره ناکـاره او فاسـق عاشـق د خپلـې معشـوقې نـه خپـل لـوئ

ناروا مقصد تر لاسه کوي. په دې کښې هېڅ شك نۀ شته چې هر غېرتمن سړی خپله ښځه او اولادونه له سندرو او خصوصاً له اوسنیو سندرو ځخه (چې هره یوه سندره د سیکس و خوا ته ترغیب ورکوي. هغه د پخوا غوندې د انسانیت، اخلاق، مینې، تهذیب او غیرت سندرې او غزلې چې اوس ښځې له مینځه تللې دي) داسې لیرې ساتي لکه ځنګه چې یې له نورو مشکوکو کارونو نه لیرې ساتي. د داسې شیانو ځخه ساتل شوې ښځې په تعري کښې خوشحال خان ختك وايي:

ښځه کومه ده بهتره :: چې عفت لري پسره
دیانت حیا لرینه :: عقل و هوش ورځخه وینه
د مېړۀ په مینه مسته :: خپل مېړۀ ته نېسته هسته
که بل کس وي لکه کسی :: نۀ یې ګوري نۀ یې کسی (۹)

او بل ځای خوشحال خان ختك وايي:

شرم تا په شرع بیايي :: بد غندي ښۀ درته وايي
که عفت دی، که عصمت دی :: عهد، قول که همت دی
دا چې ډېر دا هسې کاره :: له حیا نه یې وشماره
د سړي چې حیا ځومره :: له عزت یې بخره هومره (۱۰)

بهرحال د پورته ذکر شوو شیانو نه علاوه ډېر داسې نور شیان هم شته چې له هغو نه په یو سبب سره په اخیر کښې د ایډز ناسور پیدا کېږي یا د ایډز د پیدا کېدو ذریعه ګرځي. کله چې د ایډز ناسور پیدا شو بیا به هغه ټولنه د همېشه دپاره ورانه وي. د دې مرض له راتلو سره بیا ډېرې شرعي مسئلې مینځ ته راځي، د مثال په توګه لکه د نکاح ختمول، د میراث مسئله او د وصیت کول او داسې نور ډېر. خو دا ټول شیان که ځۀ هم د ایډز ناسور په باره کښې زمونږ په فقه حنفي کښې موجود نۀ وي. لېکن د امام ابوحنیفه په مذهب کښې د دغو مسئلو د حل دپاره د فقهي تقدیري مثال موجود دی چې په هغه سره د ټولو مسئلو حل مینځ ته راتلای شي.

زمونږ په ټولنه کښې یوې خوا ته د اسلام غوندې سپېځلی دین موجود دی او بلې خوا ته د پښتو رسم او رواج، دود، دستور. دا دواړه زمونږ و ټولنې

تــه هېڅکلــه دا اجــازه نـهٔ ورکـوي چــې هغــه دې پــه داســې بـدکاریو یـا د بـدکاریو پــه اسـبابو اختـه شـي. اسـلام او پښـتني دود د تـل دپـاره د داسـې نـاوړه کـار مـخ نیـوی کـړی دی. هـم دغـه وجـه ده چـې زمـونږ پـه پښـتني ټولنـه کښـې داسـې ناسـور لـه سـره پیدا کیږي نهٔ. د شاعر په دې خبره یې دلیل وړاندې کوم:

د ننـــــګ او د غیـــــرت پــــر ځــــای مــــــي ګـــــوره
یـــــو قـــــدم بــــه پـــــر شــــا نــــهٔ شــــم کــــه افغــــان وم
د پښــــــتو فطــــــرت مــــــــي دومــــــــره اســــــلامي دی
کــــــه اســــــلام نـــــهٔ وای نـــــو هـــــم بــــــه مســـــلمان وم

عجبـه اتفـاق دی چـې اسـلام او پښـتو دواړه مـونږ تـه دا پیغـام راکـوي او ټولنـه لـه دې نـاروا کـارونو څخـه ژغـوري او هـم مـونږ تـه دا پیغـام راکـوي چـې هـېڅ کلـه يـو انسـان هغـه کـه نارینـه وي او کـه ښـځینه وي پـه داسـې کـار اختـه نـهٔ شـي چـې هغـه دې د دوئ د کــور، نامــه، رواج او دود بانــدې بــدنما داغ وګرځــي. يــوائې دا نــهٔ بلکـې هغـه بـه پـه يـو داسـې ناسـور هـم اختـه شـي کـوم تـه چـې ایـډز ویـل کېږي. دغـه وجـه ده چـې پـه پښـتني ټولنـه کښـې د داسـې نـاوړه ناسـور هـېڅ نـوم او نښـان نـهٔ شـته. خـدای مـه کـړه کـه چېرې څـوك پـه داسـې نـاوړه کـار اختـه هـم شـي او د اسـلام او پښـتونوالي لـه قانونـه سـرغړونه وکـړي، و هغـه تـه بیـا خوشـحال خـان خټـك ډېـر ښهٔ ویلي دي:

چـــــې پـــــه خـــــوئ دې خبـــــر نـــــهٔ شـــــي غېـــــر جـــــنس دی
غېـــــر جـــــنس ســـــره خوشـــــحاله کـــــم بهبـــــود؟ (۱۱)

# حوالې


(۱) ختـړك، خوشـحال خـان، كليـات، (فضـل نامـه) دانـش خپرندويـه ټولنـه، پېښـور، 2005ء، مخ 822.

(۲) Syed, qaisar mehmood, islam Ultimate Answer to Challenge of Adids, USA, 1995, p 19.

(۳) سورة النور، سيپاره 18، آيت 30م.

(۴) شـمس الـدين، محمـد بـن محمـد الخطيـب الشـربيني، المغنـي المحتـاج الـى معرفة الفاظ المنهاج، مكتبه توفيقيه، بغداد، جلد ۸، مخ 198.

(۵) ختړك، خوشحال، خان، مخ 836.

(۶) ايضاً مخ 815.

(۷) ايضاً مخ 653.

(۸) ايضاً مخ 85.

(۹) ايضا (فضل نامه) مخ 935.

(۱۰) ايضاً (اخلاق نامه) مخ 613.

(۱۱) ايضاً مخ 35.